داسې یوه خبره دې وکړه چې که د بحر له اوبو سره ګډه شي، نو خوند او بوی به یې تغییر کړي

له ام المومنین عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغې ویلي: ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل: د صفیه په اړه دې همدا بس دی چې داسې او داسې ده ...» (یو راوي وایي: مطلب یې دا و چې له لوړوالي له لحاظه ټیټه ده)، رسول ﷺ وفرمایل: «داسې یوه خبره دې وکړه چې که د بحر له اوبو سره ګډه شي، نو خوند او بوی به یې تغییر کړي»، وایي: او ما ورته د یو چا کېسه وکړه، نو ویې فرمایل:« زه نه خوښوم چې یو څوک په یو څه سره یاد کړم حال دا چې خپله داسې او داسې یم».

[صحیح دی] [ابو داود، الترمذي، او احمد روایت کړی دی]

ام المومنین عایشې رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته وویل: «د صفیه لپاره دې همدومره بس دی» - چې مطلب یې د هغې د بدن یوه کوچنۍ نیمګړتیا، لنډوالی و، رسول الله ﷺ وفرمایل: «تا داسې خبره وکړه چې که د بحر له اوبو سره ګډه شوې وای، نو پرې به غالبه شوې وه، هغه به یې بدلې او خرابې کړې وای» هغې وویل: د فلاني په شان کار دې وکړو- تر څو یې نېمګړتیا په ګوته کړم-، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: «زه نه خوښوم چې د چا نیمګړتیا بیان کړم، یا د هغه په څېر عمل وکړم، یا داسې خبره وکړم چې یې د کمزورۍ سبب شي، حتی که په دې کار دنیا ډېره شتمنۍ هم راکړل شوې وای».

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3705